# د ښوونځي په عمر کې د واکسین کولو لپاره معلومات/ بروشر

## د ښوونځي د عمر واکسینونه کوم دي؟

هر کال د البرټا روغتیایی خدماتو اداره د عامه روغتیایي معافیت پروګرام د ۱، ۶ او ۹ ټولګیو ماشومانو لپاره د معافیت ریکارډونو باندی بیاکتنه کوي ترڅو وګوري چې کومو واکسینونو سپارښتنه د دوی لپاره کیږي.

## ولې زده کونکي واکسین کولو ته اړتیا لري؟

واکسین د بدن سره د ناروغیو پروړاندې د مخنیوي لپاره د معافیت په رامینځته کولو کې مرسته کوي. د ماشومانو د لوییدلو سره د ماشومتوب د وخت د واکسنونو د محافظت توان کمزوری کیږي. د ښوونځي د عمر واکسینونه نورو خلکو ته د ناروغیو د خپریدو په مخنیوي کې لوی رول لوبوي.

## زده کوونکي باید کله واکسین شي؟

روغتیایی کارمندان د 6 کلونو څخه تر 15 کلنۍ پورې زده کونکو لپاره د مختلفو واکسینونو سپارښتنه کوي. دا واکسینونه د ناروغیو د خپریدو مخه نیسي.

## د ښوونځي د عمر لپاره وړاندیز شوي واکسینونه

| ناروغي | واکسین | ټولګي 1 (6 کاله) | شپږم ټولګي (۱۱-۱۲ کاله) | نهم ټولګي (۱۴-۱۵ کاله) |
|---|---|---|---|---|
| د هیپاتیت بی واکسین هیپاتیت بی | Hepatitis B Vaccine | | ✓ | |
| د **dTap** واکسین ډیپتیریا، تیتانوس، د سیلولر پرتوسس | dTap Vaccine | | | ✓ |
| **MenC-ACYW** منینګوکوکل ناروغي | MenC-ACYW Vaccine | | | ✓ |
| د **HPV-9** واکسین د انسان پاپیلوما ویروس | HPV-9 Vaccine | | ✓ | |

## ایا دا واکسین خوندي او اغیزمن دي؟

ټول واکسینونه په کاناډا کې خوندي او اغیزمن دي. زده کونکي ممکن عادی او لنډمهاله جانبی عوارض تجربه کړي لکه د ستنی یا پیچکاري ځای کې سوروالی، پړسوب، درد ، سټړیا ، سر درد ، تبه ، د اشتها ضعیفوالی ، د زړه بدوالی یا خوا ګرزیدل، کانګې ، د معدې درد او داسې نور شامل دي. جانبي عوارضو د اداره کولو لپاره د د پیچکاري یا ستنې ځای کې د یخ لوند ټوکر څخه کار اخیستلی شو، او د تبې یا درد سره د مقابلې لپاره د ibuprofen یا acetaminophen په څیر درملو اخیستلی شو.

## والدین څنګه مرسته کولی شي؟

والدین کولی شي د خپلو ماشومانو سره د وړاندیز شوي واکسینونو په برحاله یا اپډیت ساتلو کی مرسته وکړي.

### که تاسو کومي اضافي پوښتنې لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلی؟ تاسو کولی شئ:

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیري سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیایی مرکز ته په 1-587-392-8062 شمیري اړیکه ټینګه کړي.
- د خپل کورنی ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.



AIMGA
Alberta International Medical Graduate Association

19 TO ZERO
UNITED AGAINST COVID-19

*Financial contribution:*

Public Health Agency of Canada | Agence de la santé publique du Canada

ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION
CREATING BRIGHTER FUTURE